# او ویلي یې دي چې: «إِنَّهُ لَا يَأْتِي بِخَيْرٍ، وَإِنَّمَا يُسْتَخْرَجُ بِهِ مِنَ الْبَخِيلِ»، «خیر پکې نشته، بلکې د بخیل نه پرې (یو څه) راوځي

له ابن عمر رضی الله عنهما څخه روایت دی چې: رسول الله صلی الله علیه وسلم له نذر څخه منع فرمایلې او ویلي یې دي چې: «إِنَّهُ لَا يَأْتِي بِخَيْرٍ، وَإِنَّمَا يُسْتَخْرَجُ بِهِ مِنَ الْبَخِيلِ»، «خیر پکې نشته، بلکې د بخیل نه پرې (یو څه) راوځي».

[(صحیح] [متفق علیه دی ( بخاري اومسلم دواړو روایت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم له نذر څخه منع فرمایلي ده؛ چې انسان پر ځان داسې یو څه واجب کړي چې شریعت پرې نه دی ملزم کړی، او فرمایلي یې دي چې نذر هېڅ شی نه مخکې کوي او نه یې وروسته کوي، بلکې یوازې د هغه بخیل انسان څخه پرې یو څه راوځي چې یوازې ځان پر واجباتو ملزم بولي، او نذر هېڅ داسې کوم کار نه شي کولی چې نذر کوونکي ته مقدر شوی نه وي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/2960